# الجمعة

**مدنی سورة دی ۱۱ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡمَلِكِ ٱلۡقُدُّوسِ ٱلۡعَزِيزِ
ٱلۡحَكِيمِ ١

**د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات او مخلوقات د الله تعالی ثنا او پاکی بیانوی( چې له هر عیب نه پاک او مبری دی)، هغه ذات چې د هستی د جهان واکمن، سپیڅلی او مقدس، برلاسی او حکمت لرونکی دی.**

هُوَ ٱلَّذِي بَعَثَ فِي ٱلۡأُمِّيِّـۧنَ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ
وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلُ لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٢

**هغه ذات چې په یوه بې سواده ټولنه کې یې د هغوی یو تن( محمد صلی الله علیه وسلم) په پیغمبری مبعوث کړ، ترڅو الهی آیتونه ورته بیان او هغوی( له فکری او روحی کثافاتو نه) پاک او تطهیر کړی او کتاب او حکمت ورزده کړی، ځکه دوی پخوا په څرګنده ګمراهۍ کې ژوند کاوه.**

وَءَاخَرِينَ مِنۡهُمۡ لَمَّا يَلۡحَقُواْ بِهِمۡۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٣

**( او دغه جلیل القدر پیغمبر د قیامت تر ورځې) د نورو هغو خلکو( عربو او غیر عربو تربیت او تزکیی) ته هم مؤظف دی چې لا تر اوسه له دوی سره( په اسلامی اخوت کې) نه دی یوځای شوی. بیشکه چې الله تعالی( پخپلو ټولو اقداماتو) برلاسی او حکمت لرونکی ذات دی.**

ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٤

**دغه( د پیغمبر بعثت او هغوی ته د بشری ټولنې د تعلیم او تربیت د ستر مسؤلیت سپارل) د الله تعالی یوه لویه مهربانی او مرحمت دی، هر چاته چې یې اراده وشی وربانديې یې نازوی. بې له شکه چې الله تعالی لوی مرحمت لرونکی ذات دی.**

مَثَلُ ٱلَّذِينَ حُمِّلُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ ٱلْحِمَارِ يَحْمِلُ
أَسْفَارًۢا ۚ بِئْسَ مَثَلُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ۚ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥﴾

**د هغو خلکو( يهودی علماو) مثال چې د تورات د احکامو په تطبيق مکلف شوی خو عمل ورباندې نه کوی،(هر يو) هغه خره ته ورته دی چې د کتابونو پيټی ورباندې بار وی( خو دی يې په محتوياتو او مفاهيمو هيڅ خبر نه وی) څومره بد دی د هغو خلکو حال او سرنوشت چې د الله تعالی آيتونه درواغ گڼی، الله تعالی دغه ډول ظالمانو ته هيڅکله هم  د نيکۍ لارې لارښوونه، نه کوی.**

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ هَادُوٓا۟ إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَآءُ لِلَّهِ مِن دُونِ
ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُا۟ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٦﴾

**( ای پيغمبره!) يهوديانو ته ووايه که تاسو گومان کوی چې د نورو خلکو نه زيات د الله تعالی دوستان ياست او پخپله ادعا کې ځانونه رښتينی گڼی، نو راځئ د خپل مرگ ارزو وکړئ( ځکه د الله دوستان خو له هغه سره ملاقات ته ډير زيات ليوال وی).**

وَلَا يَتَمَنَّوْنَهُۥٓ أَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧﴾

**( خو حقيقت دا دی چې) دوی د خپلو (ناوړو) اعمالو د ارتکاب له امله هيڅکله هم د مرگ هيله نشی څرگندولی او الله تعالی د ظالمانو په ټولو کړنو ډير ښه خبر دی.**

قُلْ إِنَّ ٱلْمَوْتَ ٱلَّذِى تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُۥ مُلَٰقِيكُمْ ۖ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ
عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨﴾

**ورته ووايه: له هغه مرگه چې تاسو ترې په تيښته ياست، ( يوه ورځ به مو هرو مرو) له گريوانه راونيسی، او د هغه ذات( الله تعالی) په حضور کې به ودريږی، چې ستاسو په ټولو پټو او ښکاره اعمالو ډير ښه خبر دی او ستاسو ټولې کړنې به درته مخې ته کيږدی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ
إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٩

اى مؤمنانو همدا چې د جمعې د ورځې د لمانځه لپاره اذان وویل شی، نو په پوره اهتمام او استعداد سره ځانونه د الله تعالى ذکر( د جمعې خطبې) ته ورسوئ، او خپلې ټولې اقتصادى راکړې ورکړې( او ټول فعالیتونه) په ټپه ودروئ، ځکه دغه( د جمعې لمونځ او د هغه د اداء کولو لپاره د ټولو چارو او فعالیتونو ځنډول) ستاسو لپاره خير او ګټور عمل دى، خو که تاسو يې( د اجر او ثواب) پوهه او معرفت ولرئ.

فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ
وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ١٠

نو کله چې لمونځ اداء کړئ( کولى شئ بيرته ) په ځمکه کې خواره شئ او د الله تعالى فضل او رزق ولټوئ، او په کثرت سره د الله تعالى ذکر وکړئ ترڅو مو( دنيوې او اخروى) نيکمرغى او بريا په برخه شى.

وَإِذَا رَأَوۡاْ تِجَٰرَةً أَوۡ لَهۡوًا ٱنفَضُّوٓاْ إِلَيۡهَا وَتَرَكُوكَ قَآئِمٗاۚ قُلۡ مَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ
مِّنَ ٱللَّهۡوِ وَمِنَ ٱلتِّجَٰرَةِۚ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ١١

او(اى پيغمبره! ځينې خلک) همدا چې تجارت يا بله کومه سرګرمى ووينى( د لمانځه له صفه) وځى او تا د( خطبې ويلو) په حال کې پرېږدى، ووايه هغه ثواب او اجر چې له الله تعالى سره دى، د ساعت تيرئ او تجارتى راکړو ورکړو نه ډير غوره دى، او بيشکه چې الله تعالى تر ټولو ښه روزى ورکوونکى دى.

« تمت سورة الجمعة بفضل الله و رحمته»

====================